## دَ حضرت شیخ الحدیث په وفات

# دَ غم اوښکے

جناب حافظ محمد ابراهیم صاحب فانی - مدرس دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

دَ ژوند مزه دِ یوړله بیلتون ته څه کوے
بېزاره دِ کړو موږه دَ ژوندون نه څه کوے

(۱)

ماتم دَ حشر جوړ دے په تمام روئے زمین　　　ته لاړے مکین شوے دَ جنت په علیین
لیلیٰ دِ د لته نښته دے مجنون نه څه کوے
بېزاره دِ کړو موږه دَ ژوندون نه څه کوے

(۲)

منلے ته دُنیا وے دَ خپل وخت عظیم امام　　　هر څوک دِ تابعدار ولاړ وُو تا ته لاس په نام
دَ علم او عرفان لویه بیلتون نه څه کوے
وبېزاره دِ کړو موږه دَ ژوندون نه څه کوے

(۳)

تمام عمر دِ اوکړو اشاعت دَ علم دین　　　رحمت دِ وی په تا باندِ هر وخت دَ رب متین
تیره ته مے پرے نه بږدے صباوُون نه څه کوے
بېزاره دِ کړو موږه دَ ژوندون نه څه کوے

(۴)

عقبیٰ طرف ته لاړے بخاری درپسے ژاړی　　　مسند نن دَ حدیث نبوی در پسے ژاړی
ژړیږی هر سړے دَ زړهٔ دَ خوښه نه څه کوے
بېزاره دِ کړو موږه دَ ژوندون نه څه کوے

(۵)

یادیږی مجاهد دَ مدنی فخر په تا وو　　　دَ حضرت لاهوری او مفتی فخر په تا وو
په عقل جالینوسه افلاطون نه څه کوے
بېزاره دِ کړو موږه دَ ژوندون نه څه کوے

(۶)

خزان په وطن راغے بیا به نه وینے بهار　　　تمام عالم اسلام دِ شو په هجر نا قرار
لړزے مے دَ فانی دَ غم مضمون نه څه کوے
بېزاره دِ کړو موږه دَ ژوندون نه څه کوے

# دَ صاحبزاده مولانا حامد الحق دَ دستاربندۍ په موقع
# دَ حضرت شیخ الحدیث رحمة الله علیه یاد

اے زمونږ دَ زړهٔ قراره چرته یې | خنده رویه ګلعذاره چرته یې
څه دِ پټ دے نن په څومره حجابونو | دَ نبی دَ باغ مالیاره چرته یې
ګلستان دِ په ګلونو بیا سمسور دے | نازنینه حسنداره چرته یې
نن مسند دِ دَ حدیث په انتظار دے | دَ محراب منبر وقاره چرته یې
لږ خو راشه تماشا دِ دَ باغ اوکړه | سر کړه پورته دَ مزاره چرته یې
فضلاء دَ اجازت په طمع ناست دی | دَ اسناد دی امیدواره چرته یې
په دستار دَ خپل نمسی باندِ لاس کېږده | نن فاضل شو جلوه داره چرته یې

اے فانی دَ دعا کانو ځائے مو روک دے
صبر غواړه دَ غفاره چرته یې

پیشکش دَ مولانا حافظ محمد ابراهیم فانی
دَ زروبۍ کلی

# خوانِ زعفران

فتح الصمد بنظم اسماء الاسد (ایک عظیم لاجواب تاریخی قصیدہ)

مجموعہ محاسن ـــــ منامی مبشرات ـــــ مسلکِ اعتدال

تحریک ختم نبوت کا فیصلہ کن کردار ـــــ سفرِ حج کے تاثرات

تبلیغی جماعت سے تعلق ـــــ طلبۂ علوم نبوت کا اکرام

سابقہ ابواب کے ضمیمہ جات اور متفرقات

اور اس شخص کی بات سے اچھی بات اور کس کی ہوگی جس نے اللہ کی طرف بلایا اور نیک عمل کیا اور کہا کہ میں مسلمان ہوں




جن لوگوں نے کہا" اللہ ہمارا رب ہے" پھر اس پر ثابت قدم رہے یقیناً ان پر فرشتے نازل ہوتے ہیں اور ان سے کہتے ہیں کہ" نہ ڈرو، نہ غم کرو اور خوش ہو جاؤ اس جنت کی بشارت سے جس کا تم سے وعدہ کیا گیا ہے"۔